مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ژباړه: سمسور ودان ۲۰۲۳/۰۷/۲۸

# یوه نجلۍ، یو جام!

**د ساحر مینې امریتا را ګرانه کړه، خو دې کیسې د هغې مئین را نه جوړ کړ. ما په ټول ژوند داسې ژباړه بیا ونکړه او که یې ولولئ، درواغژن به درته ښکاره نشم!**




په یوې نجلۍ او یو جام کې څه توپیر دی؟ ډیر څه! او هیڅ هم نه.
هغه ته هم هره نجلۍ یو جام و. جام یې ډک کړ، له شونډو سره یې ولګاوه او مات یې کړ. خو هغه ...
هغه یې د ژوند وروستی جام ثابت شو او شونډو ته رسېدو نه وړاندې ترې واخیستل شو. ده بیا ټول عمر اوښکې بهولې .

***


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په څیر و لولئ

د مشهور انځورګر سمیش ننداادا کیسه مي تیر کال لیکلي وه. په دهلي کې یې د انځورونو نمایش و. ټوله اونۍ په یو نه یو اخبار کې د ده پر هنر تبصره نشرېده. سترو ادیبانو پرې تعریفي تنقیدونه لیکل. زه د انځورګري فن په اړه همدومره پوهېدم څومره چې یو کوڼ مګر حساس انسان پرې پوهیږي. په پټه خوله مي ننداارتون کې د اینبودل شویو انځورونو ستاینه کوله، چې سترګې مي د سمیش ننداا په دوو انځورونو خښې شوې. د یوه تصویر لاندې لیکل شوي و: دوه نیمي پاڼې، یوه نیمه پاڼه!

تر دوهم انځور لاندې کښل شوي و: یوه نجلۍ، یو جام!

په لومړي انځور کې د چایو کروندې دننه دوه غرنۍ پېغلې د چایو شنې پاڼې راشکوي. مصور/ انځورګر راته د دغه تصویر مفهوم داسي ووایه :

–د چایو بوټي د وروستۍ غوټۍ یوازې یوه نیمه پاڼه وي. یوه پوره او بله هغې پسې نښتې نازکه پاڼه. د همدې یوې نیمي پاڼې ښکلا او برم ډېر مختلف او ځانګړی وي. بیا د غوټۍ لاندې دوه نیمي نوري بې حده نرمي پاڼې را زرغونیږي او ورپسې د غټو پاڼو څو ځانګي وي. د چایو همدا یوه نیمه او دوه نیمي پاڼې له پرې کولو وروسته بیلې بیلې اینبودل کیږي، چې چای یې تر ټولو قیمت بیه وي او په څه باندې ۶۰ پاونډو خرڅیږي. موږ چې کوم چای څښو دا د عادي/غټو پاڼو وي! ځکه له یو بوټي نه یوازې ۴ نازکې پاڼې حاصلیږي، نو فکر وکړه چې ټول باغ نه به اخیر څومره پاڼې ترلاسه شي؟ !

***

د سمیش ننداا په انځور کې چې کومه غرنۍ پېغله وه، د هغې مخ تر نیمایي هم کم ښکارېده، خو د حسن کوم انداز یې چې تر سترګو کېده، له هغې معلومېده لکه ټولي غرنۍ نجونې چې د چایو شینډل شوي او خپاره بوټي وي. کومه نجلۍ چې دېخوا ولاړه وه، داسي معلومېده لکه د غوټۍ وروستۍ پاڼه... د انځورونو په اړه مي خپل دا نظریات زړه کې وساتل او انځورګر ته مي و نه ویل.

دوهم تصویر چې لاندې ترې لیکل شوي و: «یوه نجلۍ، یو جام» د غرنۍ پېغلې د ځانګړي حسن انځور و. داسي انځور چې خپله غږېده. رښتیا ده ما په ټول ژوند کې داسي غږېدونکی تصویر کله هم نه و لیدلی. د دې انځور په اړه انځورګر څه وضاحت رانکړ، خو ما ورته یوازې همدومره وویل، چې: د یو جام څښلو له پاره ټول عمر هم کم دی! انځورګر لړزاند را وکتل، د ده عمر به نیږدې ۶۰ کلونه و، خو نه پوهېږم په همدې شبېه یې د ځوانۍ کوم عالم په سترګو کې راښکاره شو. هغه وویل: تر اوسه هیچا هم د دې تصویر داسي ترجماني نه ده کړې! دا خو دې په اصل کې هغه خبره وکړه، کومه چې ما کوله. نور خو نور... زما نیږدې ملګرو هم د دې تصویر داسي معنا نه وه کړې. بس ځینو به په ټوکه کې وویل: «یوه نجلۍ، یو جام» مګر جام خو هره ورځ نوی پیدا کېدلی شي!؟

نه پوهېږم په دې انځور کې کوم کشش و، چې ټوله اونۍ ننداارتون پرانیستی و او ما هم درې ځله دا انځور سر تر پایه وکوت. د هغه نمایش نوم هم «یوه نجلۍ، یو جام» و.

***

دا کومه فني او شعوري خبره نه وه چې ومي کړه. ما د سمیش ننداا د تخلیق په اړه د خپل زړه یوه ساده جمله وویله. خو همدې ساده خبرې د انځورګر زړه ښکل او د هغه تر شونډو راوست: «زه پر اوسپنیزو جسمونو د انځورګرۍ فن؛ د تحقیق له پاره یو کلي ته تللی وم. له هغه ځایه د پالم پور د چایو کروندې لیرې نه وې. دا انځور: «دوه نیمي پاڼې، یوه نیمه پاڼه» مي هلته جوړ کړ. دا نجلۍ چې دېخوا ولاړه ده، په اصل کې هماغه انجلۍ ده چې په دوهم انځور «یوه نجلۍ، یو جام» کې ښکاره شوې».

ـ که څه هم په دې خبره تا ته تر ویلو وړاندې ښه نه پوهېدمه؛ خو له اولې ورځې انځور ته تر کتلو وروسته راته داسي محسوسېده لکه ټولي نجونې چې د چایو نیالګي وي. او دا نجلۍ د همدې نیالګي پورتنۍ غوټۍ وي، شنه، نازکه او ځلېدونکې!

د سمیش ننداا زړې سترګې وځلېدلې او ویې ویل: اوس مي نور هم یقین پوخ شو، تا زما د زړه خبره وکړه. په کوم انداز دې چې زما د دواړو انځورونو مطلب بیان کړ، دا حق لرې چې خپله ټوله کیسه درته وکړم. دا کیسه وړاندې هیچا هم اورېدلې نه ده .

«ما هغې نجلۍ ته (ټوني) ویل، ځکه د اصلي نوم پوښتلو زحمت مي نه و کړی. هغې د چایو له بوټي د پاڼو راشکولو پر مهال د (دوه نیمو پاڼو او یوې نیمي پاڼې) خبره راته کړې وه. ما سملاسي ورته وویل: ته هم د پېغلو غوټۍ یې، ډېره قیمت بیه...! خو معلومه نه ده چې دا چای به څوک څښي؟



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de

یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د برساتي بارانونو ورځ وه، په يوې ويالي کې ډيري اوبه راغلي، د دواړو لوريو ښتلونکی سرک له اوبو لاندې شو. درې ورځې وروسته د سرک وجود بيرته راښکاره شو. له ډېخوا زه تلم او له هغې خوا ټوني راتلله. ما وويل: اخير هم باران غلی شو، يو ځل راته داسي ايسېده چې دا سرکښ باران به هيڅ بند نشي.
يوهېرې ټوني راته څه وويل: بابو! دا څه د انسان اوښکي نه دي، چې هيڅ به وچې نشي!
زه د ټوني خولې ته ځير پاتې شوم. د هغې بدن بې حده ښکلی و، خو دا چې دومره ژوره خبره هم راته کولی شي، فکر مې نه و کړی. دا ډول خبره مې د بنګالي ژبې په يو ناول کې لوستي وه. مګر ټوني کله هم بنګالي ناول لوستی نه و. ښايي د ټولو هېوادونو د غم ژبه به يوه وي؛ ځکه هغې داسي وويل!؟
زه د هغې کور ته هم ورغلم. پلار، مور، خور، يوه ورينداز او دوه ورونه يې پکي اوسېدل. ما يې ټول کور په ځير ځير وکوت، د هغې اصل غم مې وپېژانده، د پلار په سر يې د قرض بوج و. هلته د انجونو قيمت ټاکل کېده، له ۳۰۰ نيولې تر ۱۰۰۰ روپيو پورې. يو قرضداري ټوني د ۱۵۰۰ روپيو په بدل کې غوښتې وه .
ټوني ويل: هغه انسان نه دی؛ ديو دی! زه په خوب کې هم ترې ډارېږم .
يوه ورځ مې په تنهايي کې ترې وپوښتل: که زه ستا د ډار غوټه درپرې کړم، نو...؟
ـ هغه ځنګه بابو؟
ـ زه ۱۵۰۰ روپۍ درکوم، ته خپل پلار ته ووايه چې هغه (ديو) سره دې کوژدن ختمه کړي.
که کومه بله نجلۍ وای، زما پښو ته به غورځېدلې وای، خو ټونی ښځ زما پر زړه وار وکړ او ويې ويل: بابو! ته له ما سره واده کوې؟
کوم وخت مې ويلي و: ټوني ته د چايو د نيالګي د لومړي سر غوټۍ يې، يعني تر ټولو ګران بيه غوټۍ، ډېره قيمته، معلومه نه ده چې دا چای به څوک څښي؟ او نن ټوني په خپل ضد دغه چای تيار کړی و. دا خبره مې کله ويلې هم نه وه او نه مې يې په اړه سوچ کړی و .
ما غوښتل هغه پوه کړم، کړه مې: زما مطلب دا نه و. خو د هغې په وجود کې اور ولګېده او ويې ويل: بابو! آيا زه په ډېران موندل شوې ځځله يمه؟
زما خپله هم چندان ژوند نه و، څومره نجوني پکې راغلې او څومره لاړې. خو رښتيا دا ده چې ما له هغوی سره يو څه سفر وکړ او اوږد مزل مې ونکړ. اوس مې دا باور ختم شوی و، چې زه به د يو چا د ټول ژوند همسفر شم.
ما د هغې په شونډو ګوتې کېښودې: زما ژوند ډير ګرم دی ټوني! ته به يې د څښلو توان ونلرې، شونډې به دې وسوځوي .
ـ زه به همدې ګرم ژوند ته پوکی ورکړم بابو! او و به يې څښم.
همدومره مې ترې واورېدل. کله مې چې د هغې شکل ته وکتل، داسي راته ښکاره شوه: لکه يوازې همدې ځيرې سره چې د ټول عمر سفر کولی شم!
خپله فيصله راته د سرزرو سکې غوندې ځلېدونکې ښکاره شوه. هغې ته مې وويل: تا ته شايد معلومه نه وي، چې زما په ژوند کې څومره نجونې راغلې!؟ هره نجلۍ مې د شراب د جام په څير وڅښله او جام مې بيا له شرابو ډک کړ.
هغې په خندا وويل: ولې بابو! ستا تنده نه ماتيږي؟
هيڅ ځواب مې ورنکړ؛ خو ټوني بيا وويل: ډېر ښه بابو! يو ځل جام ډک کړه او تر څو چې زما د زړه جام ختم شوی نه وي، له کوم بل جام سره شونډې مه لګوه .
داسي راته ښکارېده، لکه تر اوسه چې ما هر جام څښلی هغه د اجسامو جامونه وو، د زړه جام پکې نه و. که کوم داسي جام وای، نو تر څو چې شراب پکې ختم شوي نه وای، له بل جام سره به مې خوله لګولې وای؟! ښايي د زړه د جام شراب به کله هم نه ختمېدل.
ما خپله فيصله د ځلېدلو په حال وليدله، د ټوني پرېکړه درسته وه، ځکه خو يې مور او پلار زموږ په حق کې فيصله وکړه او زه هم بيرته ښار ته د پيسو پيدا کولو له پاره راغلم.»

***

۸ بجې د نندارتون وخت ختمېده، ځکه خو د انځورونو کتونکي بيرته ګرځېدلي و او کوم نوی کس هم نه راته. کيسه پای ته نه وه رسېدلې، خو انځورګر چې تر دې ځايه راورسوله، نو غلی شو. ما د هغه په لور وکتل، د هغه د درېدلې کيسې په اړه مې سوچ کاوه. انځورګر داسي ښکارېده لکه د بې خودۍ په کومې دنيا کې چې ورک وي.
د ننداتون ملازم د نمايش خوني بندولو له پاره دهليز ته راغی. ما د لاس په اشاره د خاموش درېدلو ورته وويل او انتظار مې کاوه چې ښايي نيمګړې کيسه بيا پيل شي.
د مصور په بندو سترګو کې اوښکې راغلې، د اوښکو روانتيا کيسه هم روانه کړه: «ما چې روپۍ پورې او بيرته لاړم، تر هغو قسمت زما جام زما له لاسونو اخيستی و .


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

ما په لړزانده شونډو وپوښتل: څه؟ آیا پلار يي د ټوني پټ واده کړی و؟
ـ «نا! له هغې هم دردونکې حادثه شوې وه. ټوني به چې چا ته دیو ویل. هماغه سودخور د خپلې سودا له ختمېدلو خبر شوی وی، په څه چل ول يي ټوني باندې زهر ښبلي و .
د ټوني په سوځول شوي جسد کې لا څو انګار باقي وو... یو څو شغلې اور... ما هماغه اور ګواه کړ، د سوځېدلي جسد شاوخوا طواف مې وکړ او څنګه چې چارچاپېره وګرځېدم...»
انځورګر ښايي په ۳۰ ـ ۳۵ کلنۍ کې هغه طوافونه کړي وو او پاتې ټول عمر يي نه پوهېږم څنګه خو د هماغو طوافونو عزت ساتلی و. دا خبره د هغه له ۶۰ کلنۍ هم ښکارېده. پوښتلو ته هیڅ اړتیا نه وه. داسې مې محسوسوله لکه دا ۲۰مه پېړۍ چې هغه ته سلام کوي.
ورو، ورو د انځورګر شونډې وښورېدې: «ټوني ویلې: یو اقرار وکړه بابو! تر څو چې زما د زړه جام ختم شوی نه وي، تر هغو له بل جام سره شونډې مه لګوه... او هاغه مخامخ ولاړه انجلۍ ګواه ده چې تر ننه مې کوم بل جام سره شونډې نه دي لګولې«
مخامخ د ټوني انځور و. ټوني ... «یوه نجلۍ، یو جام»؛

***

مرګ د انځورګر له لاسونو هغه جام واخیست، خو هیڅ مرګ و نه توانید چې تصور نه يي یاد جام واخلي. د انځورګر ټول عمر د همدغه جام په ښبلو تېر شو او د صراحی شراب کله هم ختم نه شول.
نیږدې یو کال کیږي، چې ما د سمیش ننډا له ژبې دا کیسه اورېدلې وه او یوه اونۍ وروسته مې په خپلو لاسونو لیکلې وه. هغه يي د چاپ کولو اجازه نه وه راکړې. هغه وخت مې په کیسه کې د سمیش نوم بدل کړی و. خو هغه ویل: تر څو چې زما د ژوند وروستۍ ورځ نه وي راغلې، تر هغو پرې زه هیڅ حق نه لرم. پرېږده چې د همدې جام په ښبلو خپله وروستۍ ساه واخلم. بیا دا کیسه خپره کړه، خو اوس نه. هغه وخت زما نوم هم پکې مه بدلوه.
تېره اونۍ به مو په ورځپاڼو کې لوستي وي، چې: مشهور انځورګر سمیش ننډا وفات شو! د انځورګر د هنر اړوند اخبارونو دا لیکلي و: په کومه خونه کې چې انځورګر خپلې وروستۍ ساګانې ووېستې، په هغه کوټه کې یوازې یو تصویر و، چې لاندې ترې لیکل شوي و: «یوه نجلۍ یو جام»
عمر وړوکی و، جام لوی و. نن د انځورګر دعوه درسته ثابته شوه. ما په کیسه کې هیڅ تغیر نه دی راوستی. یوازې د هغه نوم مې ولیکه، د هغه په خواهش!

لیکوال: امریتا پریتم

ژباړه: سمسور ودان

یادونه:

دا کیسه مخکې هم خپره شوې ده، خو د ځینو ملحوظاتو له مخې یو ځل بیا خپره شوه.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ